سمیع الدین افغانی
۲۰۱۸/۱۲/۰۶

# د سولې دښمن

چې وي د سولې او صفا خبرې    د افغانانو د پخلا خبرې
وي د ورورۍ او بې ریا خبرې    دا د لستوني مارا نکارکوي

دئ په جنګوکې خپل هستي غواړي    د افغانانو تباهي غواړي
ځانله بزنس د بل نیستي غواړي    ځکه د سولې نه دئ ډار کوي

د سبا ورځې دئ حساب بیروي    د خپل کړه وړونه بې ځواب بیروي
دئ د کاذب وجدان عذاب بیروې    په سولې کله اعتبار کوي

زمونږ مالت بې په سوراور سیځلی    د چا خرمن دچا بې کور سیځلی
زمونږ وطن بې لور په لور سیځلی    دغه جانې کار دخونخوار کوي

دئ برالا د بل په ډول ګډیږي    په سپین سترګئ دبل په زورغږیږي
خبره یو وي خو دئ نور غږیږی    مکار دښمن دې چم د مار کوي

د شرق اوغرب دئ په فرمان دی    د مرګ او ژوبلې قهرمان دی
هسې په نوم باندې افغان دی    صرف افغانیت په خوله اظهار کوي

دئ پښتانه هم پشئي وژلي    هم يې ازبک نورستاني وژلي
دوئ د افشار واړه بچي وژلي    اوس هم په جنګ باندې ټینګارکوي

راځئ اي ورنـــو اتحاد جوړ کړو　　چی سره یوشو خپل هیواد جوړ کړو

سوله یـوالي تــه بنیاد جوړ کړو　　پردي په جنګ باندې تلوار کوي

دا د باتورو شاځلمیانو کور دی　　د با ایمانه دین دارانو کور دی

د بـــاعـزتـــه افغانـانو کـــور دی

افغانـي سـولـې تـه اسـرار کـــوي